PROPERTY OF ACKU

DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

۱۰۰۲

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یولسم کال – دویمه دوره، ۱۰۰۲ مه گڼه، پر له پسې ۲۰۷۷ گڼه د ۱۳۸۹ ل.د کب ۲۵ مه – د چهارشنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق ربیع الثاني ۱۰ مه د ۲۰۱۱ د مارچ ۱۶ مه

د افغانستان پر سرحدي سیمو د پاکستاني ځواکونو د بریدونو دوام

په ننګرهار کې سرحدي ځواکونه وایي، چې پاکستاني ځواکونو یو ځل بیا پر افغاني پوستو ډزې کړې او له املې یې یو سرتېری ټپي شوی دی. په ګوشتې ولسوالۍ کې د ځلورم سرحدي کنډک قوماندان سمونمل عبدالبصیر د کب پر ۲۴مه وویل، چې پاکستاني ځواکونو د پرون له پنځو بجود شپې تر ۸ نیمو پورې په پرلپسې توګه د سرحدي پولیسو پوستې تر توپچي بریدونو لاندې راوستې وې. هغه زیاته کړه، چې د پاکستاني ځواکونو په ډزو کې دانارګې سیمې سنګر او شمشاد پوستې ووېشتل شوې، چې په سنګر پوسته کې د سفیر په نامه یو خورد ظابط ټپي شو. ۳مخ

جنگ افغانستان؛ هزینه های هنگفت، دستاوردهای ناچیز!

اگرچه دیوید پترائوس دیروز گزارش پیشرفت در جنگ افغانستان را به کنگرهٔ امریکا ارایه کرد، اما تحلیلگران می‌گویند که افزایش نیروهای امریکایی در افغانستان در محور اساسی فعالیت‌های طالبان، شکست خورده است.

در همین حال، روزنامهٔ امریکایی نیویارک تایمز در شمارهٔ دیروز خود، در گزارشی دربارهٔ وضعیت کنونی امریکا در جنگ افغانستان آورده است: "دیوید پترائوس قوماندان نیروهای نظامی امریکا در افغانستان به هنگام ارایهٔ گزارش جنگ افغانستان به کنگرهٔ امریکا طی روز سه‌شنبه با موجی از بدبینی‌ها دربارهٔ وضعیت کنونی جنگ افغانستان رو به رو خواهد بود؛ چرا که جامعهٔ اطلاعاتی امریکا به این نتیجه رسیده است که دستاوردهای تکتیکی افزایش نیروهای نظامی امریکا در افغانستان هنوز به تضعیف بنیادین طالبان منجر نشده است.

بر طبق گزارش‌های استخباراتی امریکا، با گذشت یک سال از اجرای استراتیژی اصلاح شدهٔ امریکا در مبارزه با طالبان در افغانستان، چند مانع اساسی هنوز خودنمایی می‌کند: نخست فساد و تاثیر کم دولت حامد کرزی در افغانستان، دوم ارادهٔ قدرتمند طالبان برای مبارزه و سوم پناه بردن آنها به مناطق قبایلی پاکستان که اگرچه طیاره های بدون سرنشین می‌توانند، در کار آنها اخلال ایجاد کنند، اما نمی‌توانند، آنها را از بین ببرند.

این مشکلات سبب به وجود آمدن تردیدها دربارهٔ این شده است که آیا امریکا در حقیقت در حال کسب دستاوردهای پایه دار ص۲

امریکایان:
د افغانستان جګړه په دې نه ارزي چې امریکا دې پرې لګښت

واشنګټن پوسټ ورځپاڼې پرون راپور ورکړ چې نړدې په درو کې دوې برخې امریکایان اوس پر دې باور دي چې د افغانستان جګړه په دې نه ارزي چې امریکایان دې د هغې لپاره قرباني ورکړي.

دا نظرپوښتنه له ۲۰۰۱ ځخه، چې دامریکا په مشرۍ نړیوال ځواکونه افغانستان ته استول شوي، تر اوسه پورې له دې جګړې سره دامریکایانو تر ټولو زیات مخالفت ښیي. په امریکا کې په هره نظرپوښتنه کې تر ټبرې د افغانستان له جګړې سره د مخالفت کوونکو امریکایانو شمېر زیات وي. په هغه نظرپوښتنه کې چې پایلې یې د فبروري پر نهمه خپرې شوې او یو ایس ټوډې او ګالپ پول په ګډه ترسره کړې وه، ویل شوي وو چې په سلو کې ۸۶ دیموکراتان، ۷۲ مستقل خلک او ۶۱ فیصده جمهوریت غوښتونکي له کانګریسه غواړي چې له افغانستانه دامریکایی ځواکونو په ایستلو کې ښه وکړي.

په تازه نظرپوښتنه کې، چې واشنګټن پوسټ او اې بي سي نیوز په ګډه له ۱۰۰۵ تنو ځوانانو ځخه د پوښتنو پراساس کړې ده، په سلو کې نږدې اویا پوښتل شویو ویلي چې د افغانستان جګړه په دې نه ارزي چې امریکا

دي پرې لګښت وکړي یا دې د خپلو عسکرو وینې دهغې لپاره توی کړي. له ۱۰۰۵ تنو ځخه پوښتل شوي وو چې د دې جګړې مصرف او دامریکا ګټه څرنګه سره پرتله کوي او ایا فکر کوي چې د افغانستان جګړه ارزښت لري؟ د تاند د راپور له مخې، د دې پوښتنو په ځواب کې په سلو کې ۶۴ امریکایانو ویلي چې (یه) خو ۳۱ نورو (هو) ویلي دي. د دې نظرپوښتنې د پایلو له خپرېدو سره په یووخت په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو عمومي قومندان وړمه ورځ ناوخته په سپینه مانۍ کې له ولسمشر اوباما سره وکتل. په دې کتنه کې د متحدو ایالتونو دفاع وزیر رابرت ګېټس هم حاضر و. پیټرایوس ولسمشر اوباما ته له افغانستان ځخه دامریکایي پوځیانو دوتلو پر سریزو او په جګړه کې د پرمختګونو په باب معلومات ورکړل.



د واکسین د کمپاین مخنیوی یو ناوړه درېځ او پالیسي ۲

مشرانو جرګه:
وزیر دفاع ملی باید استعفا دهد

شماری از سناتوران با انتقاد از افزایش ناامنی ها، خواهان استعفای وزیر دفاع ملی و الغای شورای عالی صلح شده اند.

این سناتوران، مسوولان امنیتی را در تامین امنیت سخت انتقاد می کنند و می گویند که شورای عالی صلح در پشت پرده، از طالبان حمایت می کند.

آنان می افزایند که اگر وزیر دفاع ملی، استعفا ندهد، باید از سوی این مجلس، به لوی سارنوالی معرفی شود.

بر اساس رسانه ها، شماری از سناتوران روند گفتگوهای دولت با طالبان را سخت انتقاد می کنند و می گویند که با گریه و زاری و تحفه، طالبان را به صلح دعوت می کند.

بلقیس روشن در مجلس سنا اظهار داشت، هرگاه طالب حمله انتحاری را انجام می دهد، پشت سرش مدافعان آن در دولت خود افغانستان به خصوص شورای عالی صلح، از آنها دفاع می کنند. چرا باید کسانی که اطفال و مردم ما را به قتل می رسانند، از طرف دولت خود ما تشویق می شوند و به صلح دعوت می شوند؟

خالق داد بلاغی، عضو دیگر ص۳

دو کشته بمباردمان هوایی قوای ناتو؛
گناه این کودکان چیست؟!

دو طفل در نتیجهٔ بمباردمان نیروهای خارجی در کنر کشته شدند.

عبدالمرجان ولسوال سوکی ولایت کنر می گوید، نیروهای خارجی در بمباردمان شب گذشتهٔ شان دو طفل را کشته اند.

به گفتهٔ عبدالمرجان، در زمان بمباری نیرو های ایتلاف این اطفال زمین های خود را آب می دادند.

تا حال نیروهای خارجی در این مورد تبصره یی نکرده اند.

چندی پیش نیز ۹ کودک دیگر در ولایت کنر از سوی نیروهای ناتو قربانی شدند؛ به ص۳

د هېواد په ختیځ کې د ناامنیو په ښلاښلو پېښو کې،
د لغمان د ولایتي شورا د پخواني رییس په ګډون درې تنه ووژل شول

د هېواد په ختیزو سیمو کې د ناامنیو په ښلاښلو پېښو کې د لغمان ولایت د ولایتي شورا د پخواني رییس په ګډون درې تنه ووژل او یو شمېر نور ټپیان شول.

د رسنیو د راپورونو له مخې، د لغمان د ولایتي شورا اوسنی غړی او پخوانی رییس معلم ملنګ پرون سهار د ماین په یوه چاودنه کې ووژل شو.

د لغمان امنیه قوماندان سمونوال عزیز غرني د کب پر ۲۴مه وویل چې دغه پېښه سهار پر اته نیمو بجود مهترلام ښار اړونده د شیخانو کلا په سیمه کې رامنځ ته شوه.

هغه زیاته کړه چې معلم ملنګ د خپلو ځمکو د لیدنې په موخه تللی و او د ښار ته راتګ پر مهال د سړک پر غاړه ځای پر ځای شوی ماین پرې وچاودېد.

له بلې خوا، د جلال اباد ښار د نجم الجهاد د لښې په پرونۍ سهار نې چاودنه کې د دې لښې مدیر لیکوال او شاعر بارام خېل صالحي ووژل شو.

دغه چاودنه هم د کب پر ۲۴مه سهار شاوخوا اته نیمې بجې د جلال اباد ښار سوېل ته د نجم الجهاد (مولوي خالص) فامیلیو په لښه کې وشوه. ۳مخ

د لوی او بښونکي خدای ﷻ په نامه

سرمقاله

د هېواد روان امنیتي وضعیت، د مسوولیتونو لېږد او بهرنیو ځواکونو شاتګ

د دولت دامنیتي چارواکو له ډاډ سره سره، بیا هم د هېواد امنیتي وضعیت خړپړ او خوړین بر ېښي. تېره اوونۍ کندوز ولایت د ناامنیو د سترو او خونړیو پېښو شاهد و، چې په ترڅ کې یې د دې ولایت دامنیه قوماندان په ګډون، یو عالم مخلوق خپل ژوند له لاسه ورکړ. دا په داسې حال کې ده، چې دغه ولایت په دې وروستیو کې د ناټو او دولتي ځواکونو د ګډو پوځي عملیاتو نو تود ډګر و او دولتي چارواکو ادعا کوله، چې د دغو عملیاتو په پایله کې یې وسلوالو مخالفینو ته درنه مرګ ژوبلې اړولې او نور نه شي کولی، چې پر پېښو ودر ېږدي. له دې نه اخوا، د هېواد د نورو سیمو امنیتي وضعیت هم سم نه بر ېښي، تېره ورځ د لغمان ولایت دولایتي شورا رییس د یوې چاودنې په ترڅ کې ووژل شو، د ننګرهار د یوې لیسې مدیر د مایندې چاودنې په پایله کې خپل ژوند له لاسه ورکړ او بل خواد کونړ په ولایت کې یو ځل بیا تنکي ماشومان د امریکایي هوایي ځواکونو د درنو بمبونو خوراک او ووژل شول. په هېواد د ناکرار یو او ناامنیو څپو په داسې حال کې په هېواد بیا شدت مونديلی، چې د نوي لمریز کال د پیلېدو او ورسره جوخت د هوا تودېدو (د جګړو دودیز موسم) یوازې څو ورځې پاتې دي، دا چې د نوي کال له پیلېدو سره به، زمور هېوادوالو د کوم حالت شاهدان وي، دې پوښتنې ته هم جاري پېښې د مقدمې په توګه ځواب وایي.

دا ټولې پېښې د دې ښودنه کوي، چې د هېواد امنیتي وضعیت او تیکاو په کومه کچه کې دي، دا په داسې حال کې ده، چې ویل کېږي، ولسمشر کرزی به په نږدې راتلونکې کې د هېواد دامنیتي ځواکونو له خواد مسوولیت د لېږد، طرحه برابره او دغه چاره به تر دې وروسته د عمل جامه اغوندي او ورسره جوخت د روان میلادي کال په جولای کې له افغانستانه د بهر نیو ځواکونو شاتګ هم پیلېږي.

د زیاترو کسانو په باور، په داسې حال کې چې د هېواد اوضاع نه د ثبات او تیکاو پر لوري، بلکې ورځ تر بلې د بې ثباتۍ او نورو ناامنیو پر خوا ګامونه اخلي، د دولتي ادارو او په ضمن کې یې د هېواد د امنیتي ادارو ظرفیت او کاري کیفیت هم ټولو ته جوته دی، د مسوولیت لېږد او د بهر نیو ځواکونو شاتګ څه ماناورکوي؟ دا او دې ته ورته نورې پوښتنې هم مطرح کېږي، چې لا تراوسه چا ورته د ځواب ورکولو جرئت نه دی کړی.

په هر حال، د هېواد له روان سیاسي او پوځي وضعیت نه داسې ښکاري، چې د افغانستان په لانجه کې ټول مسوول اړخونه په دې هڅه کې دي، چې په یو ډول نه یو ډول، له افغانستان څخه خپلې پېښې سپکې کړي، دا چې دا چارې به څه پایلې ولري او ورپسې څه پېښېږي، ښکاره ده، چې هېواد بیا هم د نویمو کلونو په څېر د یو نامعلوم برخلیک پر لور ګامونه اخلي. داسې برخلیک چې بیا به یې هم بیه افغانان پوره کوي او ګټه به یې په سیمه کې د لوبو اصلي لوبغاړي پورته کوي.

د واکسین د کمپاین مخنیوی یو ناوړه دریځ او پالیسي

محمدعمر تنګیوال



د افغانستان د عامې روغتیا وزارت څو ورځې تر مخه په ټول هېواد کې د ګوزنې یا فلج ناروغۍ د مخنیوي په موخه لوی کمپاین پیل کړ. په دې کمپاین کې چې د چارواکو په وینا به څو ورځې دوام ومومي، د هېواد څو میلیونه کوچنیان واکسین شي. خو د دغه واکسین د کمپاین پر وړاندې په ځینو سیمو کې مخالفتونه راپورته شوي او ځینې وسلوال نه غواړي، چې په سیمه کې یې د دولت له خواد پولیو پر ضد دغه کمپاین ترسره شي او کوچنیان یې په راتلونکې کې له دې ناوړې ناروغۍ سره مخامخ نه شي. له دغو سیمو څخه یوه هم زابل ولایت دی، چې له دې قسم ستونزې سره مخ شوی دی. د زابل د عامې روغتیا ریاست چارواکي ادعا کوي، چې د وسلوالو طالبانو د یوې نوې ګوتځنډنې له امله د دغه ولایت په ټولو ولسوالیو کې د ګوزنې د واکسین کمپاین پر تپه درېدلی دی. د دغه ولایت د عامې روغتیا رییس ډاکټر سید سلیمان ساپي رسنیو ته وویل، د زابل له مرکز پرته په لسو وړو ولسوالیو کې د ګوزنې پر وړاندې د واکسین کمپاین ځنډېدلی دی. هغه زیاته کړه، چې په ټول هېواد کې له پنځه کلونو څخه د کم عمره ماشومانو د ګوزنې پر ضد د واکسین کمپاین پیل شوی، خو په زابل کې د ولسوالیو د واکسین مسوولینو ته طالبانو ویلي، چې واکسین مه کوئ. نومورې ډاکټر وویل، چې اوس یوازې د کلات ښار په یوه محدوده سیمه کې د دوی د واکسین پروګرام روان دی او نور په ټول ولایت کې بند دی. نومورې له وسلوالو طالبانو غوښتنه وکړه، چې واکسین ته اجازه ورکړي، ځکه چې د واکسین په پروسه کې یوازې ماشومان له فلج څخه ژغورل کېږي او نور هېڅ سیاسي یا نظامي موخه نه لري. په زابل کې د روغتیا د نړیوال سازمان (WHO) د واکسین د ځانګې استازي ډاکټر ادم خان هم د غه ستونزه منلې او وایي، چې دغه موضوع یې په کندهار کې له خپل حوزوي دفتر سره هم شریکه کړې او هغوی ورته ویلي، چې واکسین وځنډوي. نومورې ویلي: ((هغوی ممکن له طالبانو سره په دې اړه خبرې اترې وکړي او تر هغه چې له هغوی سره د خبرو کومه پایله معلومېږي مور به انتظار کوو.)) د دې په خبره، که دغه ځل د واکسین پروسه له تطبیقه پاتې شي، نو د دغه ولایت ۱۱۵ زره له پنځو کلونو کم عمره ماشومان به، له دغه کمپاین څخه بې برخې شي. هغه داهم وویل، چې د سوېل لوېدیزې حوزې په کندهار او هلمند ولایتونو کې د واکسین پروسه تطبیقېږي او د اروزګان په ولایت کې هم په لږه کچه ستونزې موجودې دي، خو دومره نه لکه په زابل کې چې یې لري. بل لور ته وسلوالو طالبانو هم د دې ادعا په هکله نظر څرګند کړی او ویلي یې دي، چې دوی له واکسین سره کومه ستونزه نه لري او زیاتوي چې چې دوی هم د افغانانو روغتیا ته د ډېر ارزښت ورکوي او هر کله چې واکسین کوونکي وغواړي په کومه سیمه کې ماشومان واکسین کړي، نو په هماغه سیمه کې دې له طالبانو اجازه واخلي او خپل کار دې وکړي. دا په داسې حال کې ده، چې په دې وروستیو څو کلونو کې په افغانستان کې د پولیو د مثبتو پېښو د زیاتېدو په اړه اندېښنې راپورته شوي **۳مخ**

جنګ افغانستان؛ هزینه های ...

پس از ۱۰ سال جنگ در افغانستان است که میلیاردها دالر هزینه و صدها کشته را برای امریکا در پی داشته است و همچنین آیا استراتیژی کنونی در چارچوب زمانی پیشنهاد شده از سوی دولت اوباما می‌تواند، به کار خود ادامه دهد. استراتیژی امریکا اکنون بر این اساس استوار است که عملیات‌های تهاجمی را علیه طالبان ادامه دهد و همزمان نیروهای افغان را با فرض اینکه در سال ۲۰۱۴ به طور کامل مسوولیت برقراری امنیت را به عهده خواهند گرفت، آموزش دهد.

رونالد بورگس، رییس سازمان استخبارات دفاعی امریکا (DIA) در اظهاراتی تامل برانگیز که به گفتهٔ مقام های امریکایی در هماهنگی با برآوردهای سازمان سیاست، نظرات متناقضی با نظرات خوشبینانه دیوید پترائوس در روزهای اخیر ارایه می‌دهد.

وی اظهار داشت: طالبان در جنوب افغانستان ترمیم پیدا کرده است و هنوز تاثیر عمیقی بر بسیاری از مردم به ویژه افرادی که در بیرون از مناطق شهری زنده گی می‌کنند، دارد. وی افزود: ایتلاف نظامی به رهبری امریکا، صدها تن از شبه نظامیان طالبان را کشته است، اما هیچ کاهش محسوسی در ظرفیت آنها برای جنگیدن دیده نمی‌شود. ما موفقیت‌های عملیاتی و تکتیکی علیه طالبان به دست آورده‌ایم. اما با وجود این طالبان ترمیم پذیر است و این توانایی را دارد که در سال ۲۰۱۱ اهداف امریکا و دیگر کشورها را در افغانستان تهدید کند. رابرت گیتس، وزیر دفاع امریکا در جریان سفر چند روز پیش خود به افغانستان گفت که استراتیژی کنونی هنوز موثر است. وی سه‌شنبه هفتهٔ گذشته در قندهار گفت: هرچه شما به جنگ نزدیک‌تر می‌شوید، می‌بینید که بهتر به نظر می‌رسد. رابرت گیتس گفت که بهار و تابستان آینده آزمون نهایی برای مشخص شدن تداوم دستاوردهای امریکا در افغانستان خواهد بود.

اما یک سال پس از آنکه امریکا اقدام به افزایش نظامیانش در افغانستان کرد، میزان حملات شبه‌نظامیان و مرگ شهروندان به طرز چشمگیری افزایش پیدا کرد و سال ۲۰۱۰ مرگبارترین سال برای نظامیان امریکا و همین طور شهروندان افغان بود. گزارش کمیتهٔ امور خارجی پارلمان بریتانیا در دوم مارچ بیان داشت که به رغم ارزیابی های خوشبینانه‌یی که از بعضی مقام های نظامی و رسمی شنیده می‌شود، وضعیت امنیت در سراسر افغانستان رو به وخامت است.

این گزارش افزود که عملیات‌های مقابله با شبه نظامیان در جنوب و شرق افغانستان به آنها اجازه داده است که حضور و تسلط شان را در مناطق دیگری که در سابق به پایه داری متعادلی دست یافته بودند، افزایش دهند. جیل دورونسورو، یک تحلیلگر انگلیسی به این کمیته گفت: طالبان در عملکرد خود شتاب پیدا کرده‌اند، به ویژه در شرق و شمال و تعادل قدرت در مجموع تغییری نکرده است و طالبان هنوز مشکل ساز هستند. این گزارش تاکید کرده است که ایتلاف بین‌الملل باید بر مذاکره با طالبان تمرکز کند و همزمان تحلیلگران نیز، می‌گویند که توافق صلح تنها کلید برای خلاصی نیروهای ناتو از وضعیت نظامی تاریک کنونی آنهاست. البته گروهی دیگر نیز عقیده دارند که امریکا بدون دستیابی به صلح نیز می‌تواند، به هدف اصلی خود در افغانستان یعنی جلوگیری از طرح‌ریزی عملیات‌های القاعده در این کشور شود. بر طبق این دیدگاه، امریکا به جای صرف هزینه برای ساخت کشور افغانستان که به گفتهٔ آنها یا به خاطر فساد هدر می‌رود و یا در نهایت به دست طالبان می‌رسد، می‌تواند با تعداد کمتری از نیروهای نظامی معمولی که سربازان عملیات ویژه و حملات طیاره های بدون سرنشین را پشتیبانی می‌کنند، به هدف خود برسد. بارک اوباما در سال ۲۰۰۹ با این رویکرد مخالفت کرد، اما همزمان با افزایش تردیدها نسبت به جنگ افغانستان، بار دیگر این بحث به عنوان یکی از استراتیژی‌های جایگزین مطرح شده است.

جاشوآ فوست، تحلیلگر سابق نهادهای استخباراتی امریکا گفت: من اکنون موجی از انتقادها را از سوی سیاستمداران در این باره می‌بینم. دگروال بینگ وست که اخیرا کتاب "جنگ اشتباه" را بر پایهٔ سال ها تجربه‌اش در پرورش سربازان در افغانستان منتشر کرده است، تاکید می‌کند که استراتیژی امریکا موجب به وجود آمدن فرهنگ وابستگی در افغانستان شده است و امریکا باید بر آموزش اردوی افغانستان تمرکز کند. مقام های امریکایی با کاهش عمدهٔ نیروهای امریکایی مخالف اند و اظهار می‌دارند که این کار به طالبان اجازه می‌دهد، دوباره مناطق وسیعی را در افغانستان بازپس گیرند. دیوید پترائوس هفتهٔ پیش در کابل هشدار داد که سال ۲۰۱۱ حتا می‌تواند، از سال ۲۰۱۰ نیز، خشونتبار تر باشد. پترائوس گفت: طالبان با قدرت باز خواهند گشت. حتا این نگرانی وجود دارد که سربازان ما حملات احساسی انجام دهند که ماهیأتی کورکورانه داشته باشد.

نقش اقوام در پروسهٔ تشکل ...

عاجز شوند، مردم خود ابتکار عمل را بدست می گیرند و عملاً به ملت به مثابهٔ چوکات طبعی زیست باهمی، هستی می بخشد. از زمان ایجاد دولت نوین افغانستان تا اعلام سلطنت امیرشیرعلی خان (۱۸۶۸م) طی ۱۲۱ سال اقوام تاجک، ازبک، هزاره، بلوچ و غیره در مواقع مختلف و به درجات مختلف در ادارهٔ امور دولت سهیم بودند و در حالات اضطراری چون بغاوت داخلی و یا تجاوز خارجی از دولت که قیادت آنرا پشتون ها بدست داشتند، حمایت می کردند. امیرشیرعلی خان باراول در تشکیل دولت به تقلید از کشورهای پیشرفته، کابینه وزرا را گنجانید. در رأس این کابینه، سید نورمحمد شاه کندهاری قرار داشت. به قول پوهاند عبدالحی حبیبی " کابینه از اقوام مختلف سکنهٔ افغانستان بدون تبعیض و امتیاز قومی و لسانی تشکیل شده بود. در کابینه، هیچ فردی از دودمان شاهی و یا اقارب امیر وجود نداشت. این می رساند که امیر در امور سیاسی با وسعت نظر برخورد می کرد و مساوات را میان اهالی کشور، رعایت می نمود".

امیرشیرعلی خان در دورهٔ سلطنت خود، دست به یک سلسله اقداماتی زد که خواهی نخواهی در تأمین وحدت ملی مفید ثابت شد. مثلاً تاسیس چاپخانه و طلوع شمس النهار به مثابهٔ اولین جریده در آسمان مطبوعات کشور برای تأمین ارتباط ذات البینی عناصر مرکبهٔ جامعهٔ افغانی از یک طرف و ایجاد تماس بین هیأت حاکمه و مردم از جانب دیگر، مفید ثابت شد. به همین سلسله، تاسیس یک اردوی کم و بیش منظم با تشکیل و تجهیز نیمه عصری اما نامکمل و غیر کافی راه را برای استحکام قدرت دولت ملی هموار کرد و زمینه های تفاهم ملی را بیشتر نمود. اما امیر شیرعلی خان برای تقویت همبستگی ملی و اعطای زمینهٔ اشتراک همهٔ اقوام افغانستان در امور ملی هیچگاهی به نقش توحید کنندهٔ لویه جرگه توجه نکرد: امیر در مورد تعیین سرحدات شمالی با روسیه، تقسیم آب هلمند با ایران به حکمیت انگلیس، مذاکره با انگلیس ها در سمله (۱۸۷۳م) و پشاور (۱۸۷۷م)، هیچگاهی لویه جرگه را به غرض حصول مشورت دعوت نکرد.

امیر حتا در وقت تجاوز انگلیس (نومبر ۱۸۷۸م) به لویه جرگه روی نیاورد، تا آنکه بعداً مردم خود ابتکار قیام ملی را بدست گرفتند. ناسیونالیزم دشمن کوب افغانی باردیگر اقوام مختلف کشور را در سنگر واحد جهاد ملی علیه متجاوز قرارداد. به ترتیب فوق، ناسیونالیزم افغانی به مثابهٔ چوکات همبستگی ملی روی زمینه های مساعد عینی که آنرا رشد طبیعی، اما بطی جامعه فراهم می نمود، به تدریج و به آهستگی مراحل تکامل را طی می کرد و اقوام افغانستان را برای تأمین اهداف ملی بیش از پیش متحد می نمود. بخصوص در زمان سلطنت امیرشیرعلی خان ناسیونالیزم افغانی برای آنکه به یک وسیلهٔ مؤثر دفاع خودی تبدیل می گردید، باید به یک اردوی مجهز به تکنالوژی مدرن حربی وقت متکی می شد، تا قدرت کامل دفاعی در برابر قوای متجاوز انگلیس می داشت. حال زار کشور عقب ماندهٔ افغانستان چنین مجالی را برای میلیون افغانی مسیر نساخت. امیر در تحت الحمایگی انگلیس باقی ماند، بی آنکه بتواند، از حربهٔ ناسیونالیزم افغانی برای کسب استقلال ملی استفاده کند. سید جمال الدین افغان (۱۸۶۶م) که با بصیرت اوضاع را نظارت می کرد، در تلاش آن شد، تا با خیال پردازی، ضعف ناسیونالیزم افغانی را در مقابله با قوای استعماری انگریز با "انترناسیونالیزم اسلامی" جبیره کند. سید شعار انترناسیونالیزم اسلامی را در شرایطی سر داد که هیچ گونه آماده گی عینی و ذهنی برای اتحاد میان کشورهای اسلامی که تقریباً همه در بند استعمار اسیر بودند، وجود نداشت. قریب یک قرن بعد تعالیم سید افغانی منبع الهام برای جنبش های اخوان المسلمین در شرق میانه عربی قرار گرفت. اما داعیهٔ اتحاد اسلام بازهم از حد تیوری و شعار پیش نرفت، چه با ناسیونالیزم قیام یافتهٔ ممالک اسلامی در اصطکاک قرار می گرفت. دورهٔ سلطنت ۲۱ سالهٔ امیر عبدالرحمن خان (۱۸۸۰-۱۹۰۱م)، در تامین وحدت ملی از طریق استقرار یک حکومت مرکزی قوی، دارای بسیار برجستگی است. در اردوی امیر ۱۴۸۴۰۰ تن به حالت «تیار سی» در خدمت حکومت برای قلع و قمع هر نوع تمرد قرار داشت. این اردو را شبکهٔ وسیع استخبارات در امر سرکوبی اشرار یاری می رساند. امیر بدون تعصب قومی و مذهبی صرفاً به هدف ایجاد یک دولت قوی، اقوام سرکش و ماجرا آفرین را که از موضع رقابت با امیر برخورد می کردند، بلاتفریق و بدون استثناء تار و مار کرد. به عبارهٔ دیگر، امیر در برابر مشران قومی که به نحوی از نظر سیاسی تبارز می کردند و اتوریتهٔ سلطنت را در معرض سوال قرار می دادند، با قاطعیت و بی رحمی عمل می کرد:

وی عصیان هزاره ها را سرکوب کرد، قیام شینواری ها را در هم شکست و غلجایی های غزنی و کلات را وادار به اطاعت از سلطنت نمود. کافرستان با کسب نام نورستان از نظر اداری، فرهنگی و دینی به قلمرو ملی ضمیمه شد. قابل تذکر است که در زمان سلطنت امیر اقوام مختلف افغانستان هیچگاهی درگیر منازعه بایکدیگر نبوده اند. اگر تمردی مطرح بود که از میان بردن آن دخالت خشونتبار امیر را ایجاب می کرد، صرفاً در چارچوب مناسبات دولت و مردم بود. همبستگی ملی یی که امیربا ایجاد ترس و وحشت از دولت، خلق کرده بود، به تدریج به عادت میکانیکی تبدیل گردید و برخی اقوام سرکش افغانستان را بعضاً قهراً معروض به قبول سرنوشت واحدی گردانید. وحدت ملی یی راکه امیر به زور سرنیزه براقوام عصیانگر تحمیل کرده بود، به مرور زمان به ضابطهٔ قابل قبول زیست با همی اقوام کشور تبدیل شد.

ادامه دارد

دو کشته بمباردمان هوایی قوای ...

راستی گناه این کودکان معصوم چیست که از هر دو طرف بی رحمانه هدف قرار می گیرند و این گونه قربانی می شوند!!! این در حالی است که در نتیجهٔ حملهٔ انتحاری پریروز در مرکز جلب و جذب اردوی ملی که در کنار پارک سپین زر کندز قرار داشت نیز، چهار تن کودک کشته شده و شماری زخمی شدند. خشونت‌ها در کشور ظرف ماه‌های اخیر به شدت افزایش یافته و نهادهای حقوق بشری نسبت به افزایش تلفات غیرنظامیان در این خشونت‌ها ابراز نگرانی کرده اند. انتظار می‌رود، تا حدود یک هفتهٔ دیگر، رییس جمهور برنامهٔ انتقال مسوولیت‌های امنیتی به نیروهای افغان را اعلام کند. قرار است، اواسط سال جاری میلادی، روند خروج نیروهای خارجی از افغانستان آغاز شود و مقام های ناتو، نسبت به افزایش خشونت‌ها در بهار پیش‌رو در افغانستان هشدار داده اند.

د لغمان د ولایتي شورا د پخواني ....

د ننگرهار دوالي ویاند احمدضیا عبدالزي وویل، چې بارام خپل صالحي په شوې چاودنه کې لومړی سخت تپي شوی و، خو وروسته یې په روغتون کې ساه ورکړه. هغه زیاته کړه، چې په دې چاودنه کې بل ښوونکی هم تپي شوی او اوس په روغتون کې تر درملنې لاندې دی. بارام خپل صالحي د مهاجرت پر مهال د پاکستان د پېښور د کچه ګړی په پنډغالي کې د یوه ښوونځي مدیر او په دغه ښار کې د افغان فرهنګي ټولنې غړی و، چې درې لسیزې یې په ښوونیز او فرهنګي بهیر کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې وې.

طالب ویاند ذبیح الله مجاهد پژواک ته د نومورې دوژنې په اړه د خپلو ملګرو لاس لرل په کلکه رد او پر مړینه یې خواشیني څرګنده کړې ده.

د یو بل خبر له مخې، د کاپیسا په تګاب ولسوالۍ کې دیوې نښتې په ترڅ کې ځلورو وسلوالو طالبانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. د تګاب ولسوال پاچاګل بختیار د کب پر ۲۴مه وویل، چې تېره شپه دانا تپې په سیمه کې د ملي اردو د سرتېرو او وسلوالو طالبانو تر منځ نښته رامنځ ته شوې ده. د نومورې په وینا، چې په دې نښته کې یو وسلوال طالب وژل شوی او درې نور تپیان دي، خو طالب ویاند ذبیح الله مجاهد وویل، چې په تګاب ولسوالۍ کې د فرانسوي ځواکونو له خوا درې ورځنیو عملیاتو په ترڅ کې د دوی دوه ملګري وژل شوي او پنځه نور تپیان دي. نومورې ادعا وکړه، چې په دغو عملیاتو کې ۱۰ فرانسوي سرتېري هم وژل شوي دي. خو په کاپیسا کې د فرانسوي ځواکونو مطبوعاتي دفتر په تګاب ولسوالۍ کې د دوی له خوا عملیات او د سرتېرو وژل کېدل رد کړل. همداشان د یوه بل خبر له مخې، د جلال اباد ښار مستوفیت چوک ته څېرمه د قصبې په سیمه کې هم په یوه میوزیک سنټر کې چاودنه شوې. د کېسټو او سي ډي ګانو د دوکان (میوزیک سنټر) مالک شاه حسین د کب پر ۲۴مه وویل، چې چاودنه د سهار پر پنځو بجو وشوه. هغه زیاته کړه، چې دغې چاودنې یې دوکان زیانمن کړی او په کې د سل زره افغانیو په ارزښت کېسټې او سي ډي ګانې له منځه تللي دي. نومورې وویل: ((غریب سړی یم، له چا سره دښمني نه لرم، ډېر ظلم راسره وشو.)) شاه حسین له

د افغانستان پر سرحدي سیمو د ....

سمونمل عبدالبصیر وویل، چې افغان ځواکونو له درېیو ساعتونو حوصلې وروسته پر پاکستاني ځواکونو متقابلې ډزې وکړې.

نومورې وایي، چې د شپې تر یوې نیمې بجې پورې د دواړو خواوو ترمنځ ډزې روانې وې.

د ګوشتې ولسوال حاجي سیدالرحمن په ډیورنډ کرښه افغان لوري ته د پاکستاني مرمیو راوښتل ومنل.

هغه پژواک ته وویل، چې په ډزو کې یو افغان سرحدي ساتونکي تپي شوی دی.

د نومورې په وینا، چې د ننګرهار والي ته یې خپل اندېښنه رسولې او که ډزې همداسې دوام ولري په سیمه کې به د خلکو ژوند اغېزمن او وسونه به کوچېدو ته اړ شي.

سرحدي ځواکونه وایي، چې له تېرو دوو میاشتو راهیسې پاکستاني ځواکونو نږدې ۱۸ ځلې پر افغان خاورې بریدونه کړي، چې له املې یې سلګونه کورنۍ کډوالې شوې دي.

د واکسین د کمپاین مخنیوی یو ...

او د هېواد په نارامو ولایتونو کې د ډې پېښو اندازه لوړه ښودل شوې او اصلي علت یې هم په دغو ولایتونو کې جګړه او د جګړې تاثیرات بلل شوي، چې له املې یې په دغو ولایتونو کې د واکسین کمپاین په سمه توګه نه پلی کېږي او ډېری سیمې یې تر پوښښ لاندې نه راځي. یو څه وخت مخکې اسوشیټډ پرېس اژانس راپور ورکړ، چې په دوه زره لسم میلادي کال کې پاکستان د دنیا یواز ېنی ملک و، چې د ماشومانو د ګوزنې پېښې په کې زیاتې شوې وې. د روغتیا د نړیوال سازمان معلومات ښیي چې په تېر کال کې یوازې په افغانستان، پاکستان، هندوستان او او نایجریا کې د ماشومانو د ګوزنې ناروغي پاتې ده. خو له پاکستانه پرته په نورو درېیو ملکونو کې دغه ناروغي مخ پر کمېدو ده. وړم کال په پاکستان کې نهه اتیا کوچنیان ګوزنې ووهل او تېر کال دغه شمېر یوسلو اته دېرش کسانو ته ورسېده. په پاکستان کې کابو ټول هغه ماشومان چې ګوزنې وهلي د افغانستان سرحد ته نږدې د هغو سیمو اوسېدونکي دي چې د طالبانو او د پاکستاني پوځ تر منځ په کې جګړې روانې وې. تېر کال په هند کې د ماشومانو د ګوزنې یوځلو ښښت پېښې، په افغانستان کې ځلورو ښشت او په نایجریا کې اتلس پېښې لیدل شوې وې. خو دا چې اوس سړ کال به په دغو هېوادونو په تېره بیا په افغانستان کې دا فیصدي ځومره وي، دا به وروسته معلومېږي، خو اندېښنه داده، چې له یوې خوا په دغه هېواد کې جګړې روانې دي او له بلې خوا په ځینو سیمو کې وسلوال مخالفین د دغه کمپاین مخنیوی کوي او په دې ترتیب ځینې یا حتا ډېرې سیمې له دې کمپاین څخه پاتې کېږي، چې ښایي په راتلونکې کې په دغو سیمو کې د دغې ناروغۍ فیصدي ډېره لوړه شي او ماشومان یې د دې ترڅنګ له یو شمېر نورو ناروغیو سره هم مخامخ شي. اوس چې ځینې وسلوالې ډلې د دې مخالفت کوي، نو دا سمه خبره نه ده، نه یو سم دریځ دی او نه هم یوه سمه پالیسي، بلکې دا ډول دریځ د ماشومانو راتلونکې له ډېرو ستونزو سره مخامخ کولای شي او ژوند یې له کړاوونو او خطرونو سره مخ کېدای شي.

وزیر دفاع ملی باید استعفا ...

محلس سنا می افزاید که اگر وزیر دفاع ملی به طور داوطلبانه، حاضر نیست استعفا دهد، ما وظیفه ملی خود می دانیم که این گونه انسان هایی که به امنیت کشور کمک نمی کنند را به لوی سارنوالی کمک کنیم.

مجلس سنا پس از بحث و گفتگو فیصله کرد، تا هفتهٔ آینده، مسوولان امنیتی در این مجلس فرا خوانده شوند.

نقش اقوام در پروسهٔ تشکل ملت
در تاریخ معاصر افغانستان

دوکتور م، عثمان، روستار تره کی

قسمت اول

برخی دولت های ملی چون روسیه روی انگیزهٔ توسعه طلبی پدید آمده است. علت وجود بعضی دیگر مثل پاکستان و اسراییل اتکا به دین واحد بوده است. دولت فدرال امریکا از توأمیت و آمیزش خوش به رضای مهاجران دنیای قدیم عرض وجود کرده است. بسیاری کشورهای افریقایی از جمله کانگو به مقتضای سیاست استعمار از انضمام چند نقطهٔ استراتیژیک پا به عرصه وجود گذاشت.

برخلاف آنچه ذکر کردیم، افغانستان کشور تاریخی است. سرنوشت مردم مسکون در افغانستان را حوادث تاریخی در طول پنج هزار سال با هم گره زده و قریب بود، اقوام آنرا در کورهٔ ملت واحد ذوب کند که مصیبت جنگ ناشی از تجاوز شوروی پیش آمد.

افغانستان نقطهٔ تقاطع مهاجرت ها و لشکرکشی های عظیم در پهنهٔ تاریخ بوده است. این مهاجرت ها و لشکرکشی ها به جامعهٔ کثیر الاقوام افغانستان تنوع بیشتر بخشید و کشور را در مسیر تاریخ به محل تلاقی تمدن های بزرگ تبدیل کرد.

اقوام مختلف شامل ترکیت جامعهٔ افغانی برای بار اول در سال (۱۷۴۷ م) موفق به تشکیل یک دولت ملی شدند.

در افغانستان دولت ملی برخلاف معمول در سایر کشورها از طریق فتوحات داخلی یک گروه مسلط نژادی به میان نیامد، بلکه از مجرای اتحاد داوطلبانهٔ اقوام مختلف برای تشکیل یک ادارهٔ واحد مرکزی و استفاده از آن به قصد حفظ استقلال و مقابلهٔ مؤثر با مداخلات احتمالی خارجی عرض وجود کرد.

سهمگیری خوش به رضای اقوام مختلف در ایجاد دولت ملی از طریق موسسهٔ عنعنوی لویه جرگه در (۱۷۴۷ م) که طی آن صابرشاه کابلی برای تاج گذاری احمدشاه درانی برخاست، یکی از عوامل عمده و مؤثر در رشد " ناسیونالیزم " افغانی به حساب می آید. به این عامل عمدهٔ سمت دهنده، احساسات اقوام مختلف در جهت تأمین اهداف ملی، باید عوامل دیگری را از قبیل دین اسلام و موسسهٔ سلطنت علاوه کرد. اما ملتفت باید بود که نقش دین اسلام و موسسهٔ سلطنت در تأمین وحدت ملی بیشتر بعد از تشکیل لویه جرگه و دولت ملی محسوس بوده است.

بناً لویه جرگه ها افزارهای دموکراتیک تقویت تجانس (Assimilation) و همبستگی اقوام مختلف به حساب می آیند و در رشد ناسیونالیزم افغانی، نقش کلیدی داشته اند.

دین اسلام نیز به نوبهٔ خود در به هم پیوستن احساسات اقوام رنگارنگ افغانی، به یک مرکز واحد روحانیت رول برجسته را ایفا کرده است.

در طول تاریخ، نقش دین اسلام در ایجاد همبستگی ملی و دفاع خودی بیشتر در مقابله با قدرت های متجاوز خارجی از طریق جهاد ملموس است. جهاد، اقوام مختلف جامعهٔ افغانی را در پیکر واحد ملت مسلمان افغانستان قرار می دهد و آنرا در سخت ترین آزمون مرگ و زنده گی، به مقاومت، ایثار و از خود گذری در راه دفاع نوامیس ملی، دعوت می نماید.

موسسهٔ سلطنت به خصوص وقتی که برموازین دین اتکأ کرد و قبیلهٔ مسلط نژادی و لویه جرگهٔ مرکب از اقوام مختلف را برای توجیه حقوقی قدرت خود به خدمت گرفت، توانسته است، به یک افزار سیاسی اتحاد و همبستگی ملی تبدیل گردد.

اقوام مختلف جامعهٔ افغانی بیشتر در موضع مقابله علیه قدرت متجاوز خارجی خود را متحد و دارای سرنوشت مشترک احساس نموده اند. جنگ های ۱۸۳۹-۱۸۴۲ و ۱۸۸۰م و ۱۹۱۹ م افغان ها علیه قدرت متجاوز انگلیس و جنگ ۱۹۷۹- ۱۹۸۹م علیه تعرض اتحاد شوروی به درستی نفوذ روحیهٔ ناسیونالیزم را در بطن جامعهٔ افغانی که با پشتوانهٔ مذهبی برقاطعیت و رزمنده گی آن افزود شده بود، ثابت ساخت.

درینجا سوالی که ارایهٔ پاسخ بدان به قصد اعطای انسجام به صحبت حتمی به نظر می رسد، این است که چرا افغان ها پس از سه دوره جنگ با انگلیس، وحدت ملی خود را حفظ کردند، در حالی که پس از موفقیت در مقابله علیه تجاوز شوروی، آنرا از دست دادند؟

به نظر ما، علت اساسی این امر در کیفیت و خصلت قوای تجاوزگر از یک طرف و ماهیت هدفی که وی اصابت به آنرا از طریق تجاوز در نظر داشت، از جانب دیگر است. انگلیس ها به عنوان قدرت استعماری بدون مدعیات ایدیولوژیک صرفاً به قصد به اسارت کشیدن افغانستان، به کشور ما تجاوز کردند. در حالی که شوروی ها با داشتن حربهٔ قوی ایدیولوژیک علاوه بر دربند کشیدن ملت افغانستان در صدد تحمیل ایدیولوژی خود شدند.

این ایدیولوژی ساختارهای اجتماعی، فرهنگی، دینی، سیاسی و اقتصادی یی را که به جامعهٔ ما تجانس و وحدت می بخشید، معروض به دگرگونی کرد. اختلافات قومی، منطقه یی و مذهبی را به قصد بهره برداری های سیاسی به شدت دامن زد. اعتبار اجتماعی موسساتی چون سلطنت و لویه جرگه را که در طول تاریخ وحدت ملی افغان ها را تأمین می نمود، متنفی نمود و با تبلیغ در اطراف جنگ طبقاتی نقش توحید کنندهٔ اسلام را که خود به حربهٔ سرکوبگر در مناسبات و درگیری های سیاسی، تبدیل شده بود، ضعیف ساخت.

ما در رابطه به اینکه شوروی با تجاوز به کشور ما قصد داشت، ملت افغانستان را از هستی مادی و معنوی ساقط بسازد و اقوام برادر را به عنوان عناصر ترکیب کنندهٔ این ملت به خون یکدیگر تشنه کند، تا زمینهٔ توسعهٔ نفوذ استعمار سرخ که در عقب به اصطلاح انقلاب سنگر گرفته بود، میسر شود، بعداً اندکی مکث خواهیم کرد. عجالتاً باردیگر در پی ارزیابی مراحل تکامل ناسیونالیزم افغانی صفحات دیگری از تاریخ کشور را ورق می زنیم.

در افغانستان، قرن ۱۸ ظهور هوتکیان (۱۷۰۷ – ۱۷۳۷ م)، مصادف است به آغاز مبارزهٔ سرنوشت ساز اقوام کشور برای بنیان گذاری یک دولت ملی و کسب استقلال از دولت صفوی.

آن چنان که در تاریخ افغانستان معمول است، قیام ملی با دست آویز مذهبی سازمان داده شد. به این معنا که میرویس نیکه پس از بازگشت از بیت الله، جرگهٔ بزرگ ملی مرکب از اقوام مختلف کشور را در منطقهٔ " کوکران " کنار دریای ارغنداب سازماندهی کرد و فتوای علمای حجاز را به مردم وانمود و از ایشان برای قیام ملی علیه گرگین حاکم خونخوار صفوی، تعهد گرفت.

گرگین نمایندهٔ دولت صفوی بود. واضح است که در اینجا اعلام جهاد علیه گرگین به مثابهٔ یک فرد مطرح نبود، بلکه علیه دولتی مطرح بود که گرگین از آن نماینده گی می نمود. جهاد یک دولت مسلمان علیه دولت دیگر مسلمان شرعاً توجیه پذیر نیست. مگر آنکه این واقعیت را بپذیریم که جهاد بهانه یی بود برای سازماندهی یک قیام ملی به قصد حصول استقلال سیاسی از دولت صفوی.

بناً مردمان افغانستان و ایران علی رغم داشتن دین مشترک، دارای هویت های ملی مجزأ از یکدیگر بودند که دین اسلام نتوانست، به هم پیوستگی آنها را حفظ کند. این خود، راه را برای تشکیل دولت ملی در افغانستان هموار کرد.

مرحوم عبدالحی حبیبی عصر هوتکیان را چنین ارزیابی می کند: " دورهٔ سی سالهٔ حکمروایی هوتکیان در تاریخ افغانستان از حیث نهضت داخلی و غلیان احساس استقلال طلبی خیلی مهم است. زیرا در این وقت اساس حکومت داخلی و ملی مکرراً در قندهار گذاشته شد که بعدها احمدشاه بابا بر همان شالودهٔ سلطنت مستقل افغانی و دولت نوین افغانستان را اعمار کرد ".

در تاریخ قرن ۱۸ افغانستان، هیچ یک تصادم قومی، نژادی و مذهبی ثبت نشده است. این واقعیت بیانگر آرزومندی اقوام و مذاهب سراسر کشور برای زیستن در چارچوب یک کشور واحد به حساب می آید.

تاریخ قرن نزدهٔ افغانستان از وفات تیمورشاه (۱۷۹۳ م) تا استقرار سلطنت عبدالرحمن خان (۱۸۸۰م) آکنده از وارد شدن ضربه های مدهش برپیکر وحدت ملی است. چه در این مقطع تاریخ، بالاثر رقابت ها و خصومت ها میان اولاده تیمورشاه (۲۲ پسر) و بعداً فرزندان دوست محمدخان (۲۹ پسر) و در مجموع برخوردهای خونین میان اقوام سدوزایی و بارکزایی رشد ناسیونالیزم نوپای افغانی به مثابهٔ ظرف مخلوط کنندهٔ اقوام مختلف به شدت مختل شد.

این وضع قریب یک قرن دوام کرد که طی آن افغانستان از داشتن یک حکومت واحد ملی و مرکزی محروم شد و راه برای مداخلهٔ قدرت های خارجی در امور داخلی کشور هموار گردید و قلمرو افغانستان محدود شد.

قابل یادآوری است که در طول قرن ۱۹ با آنکه عواملی چون خانه جنگی، فقدان ادارهٔ واحد مرکزی و سازش حکمروایان محلی با قدرت استعماری انگریز، موانعی در راه وحدت ملی ایجاد کرده بود، تهاجم انگلیس بر کشور در (۱۸۳۹ م) و (۱۸۷۸م) اقوام مختلف در حال مناقشه و رقابت افغانستان را در صف واحدی بر ضد متجاوز قرار داد. به عبارهٔ دیگر، عوامل سازندهٔ وحدت ملی بر عوامل باز دارندهٔ وحدت ملی غالب آمد.

به شهادت تاریخ، به استثنای موارد نادری، اقوام افغانستان غالباً در برابر حکمروایان داخلی اعم از آنکه شیوهٔ استبدادی داشته اند و یا دموکراتیک، مردم حرف شنو بوده اند. اما کشف وابستگی یک زمامدار به یک قدرت خارجی انگیزهٔ آن شده است، تا مردم با قیام های ملی نخست به حساب حکمروایی داخلی رسیده گی کند و سپس از یک سنگر واحد ملی بر قدرت خارجی یورش برد. این خود می رساند که وقتی حکومت ها از امر دفاع منافع ملی

ص۳

کنوانسیون رفع کلیه تبعیضات علیه زنان

ماده بیستم: ۲- جلسات کمیته عموماً در مقر (مرکز) سازمان ملل متحد یا در هر محل دیگری که به درخواست کمیته تعیین می شود، برگزار خواهد شد.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپانه یوازې دسرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپانه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل:- ۰۷۰۰ ۵۹۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل:- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل:- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com